**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوښتنې ځواب

## په سوډان کې سياسي لانجه

(ژباړه)

**پوښتنه:**

الجزيرې د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۹ مه پر خپله ويبپاڼه خبر خپور کړ: (د سوډان انتقالي واکمنې شورا شنبه د واکمنې شورا مرستيال محمد حمدان حميدتي د سياسي ګوندونو تر ناستې وروسته وويل: «کومو سياسي ګوندونو چې هراړخيز تړون لاسليک نه کړ، يوې داسې سياسي هوکړې ته د رسېدو لپاره يې خپله لېوالتيا ښکاره کړه چې په هيواد کې کړکېچ ته د پای ټکی کېږدي». د يادونې وړ ده چې د سوډان واکمنې شورا او ملکي ځانګې، په ځانګړي ډول د ازادۍ او بدلون ايتلاف مرکزي شورا د ۲۰۲۲م کال د مې پر ۱۲ مه، هراړخيز تړون په دې موخه لاسليک کړ چې په هيواد کې يو نوي انتقالي پړاو ته لاره پرانيستل شي. که څه هم د ازادۍ او بدلون ايتلاف ديموکراتيک بلاک په ګډون نورو لورو د تړون له لاسليکولو څخه ډډه وکړه...)

العربيه الجديد پنجشنبه د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱٦ مه پر خپله وېبپاڼه خبر خپور کړ چې: (د هر اړخيز تړون لاسليک کوونکو لورو پنجشنبه په خرطوم کې د سياسي پروسې د وروستي پړاو د کار د يوې برخې په توګه د انتقالي عدالت کنفرانس کې ګډون وکړ...) ايا دا ريښتيا ده چې وروستی پړاو را نيږدې شوی؟ د يادونې وړ ده چې د پوځ او واکمنې شورا مشر البرهان او د هغه د مرستيال محمد حمدان حميدتي چې د چټک ملاتړ ځواکونو قومندان هم دی، ترمنځ د اختلافاتو راپورونه ورکړل شوي وو. ايا امريکا حميدتي دقلو هڅوي چې ډارفور ازاد او ببېل کړي، لکه څنګه چې سويلي سوډان په ۲۰۱۱ کې ببېل کړ، ځکه حميدتي په ډارپور کې له زيات نفوذ څخه برخمن دی؟ يا د رول لوبولو لپاره د هغوی ترمنځ اختلافات په لاس جوړ شوی دي؟ په داسې يوه ځانګړي وخت کې د خرطوم او عربي اماراتو د چارواکو ترمنځ د دوو اړخيزو ليدنو اهميت په څه کې و؟ ايا له يهودي اداري سره د اړيکو عادي کولو په برخه کې د البرهان هڅې له ورستيو لانجو سره تړاو لري؟ د ځو پوښتنو يو ځای کولو په سبب بښنه غواړم. الله سبحانه و تعالی خو دې اجر درکړي!

**ځواب:**

غوره به وای چې دومره پوښتنې يو ځای نه وای راټولې شوې. خو په هر صورت، کومه خبره نه ده. د دغو پوښتنو د ځوابولو لپاره لاندې موضوعات ارزوو:

۱- مطبوعاتو د ۲۰۲۳م کال مارچ په ۱۱مه، د سوډان وسله والو ځواکونو وياند بريد جنرال نبيل عبدالله هغه ويډيو خپره کړه چې خلکو ته په خطاب کې وايي: (ستاسې وسله وال ځواکونه د روانې سياسي پروسې ملاتړ کوي او د هغه تړون جدي او بشپړ تطبيق ته ژمن دي چې له مخې يې د انتقالي دورې له پای ته رسېدو سره سم د پوځي سيستم يوځای‌والی او ملکي حکومت تشکيل پيلېږي). اپوزيسيون لومړی شک درلود چې پوځ به د تړون پر ضد درېږي او هڅه به وکړي چې له تړونه سرغړونه وکړي؛ تړون به وغورځوي، مخه به يې ونيسي او د پلي کولو لپاره به يې شرايط وضع کړي؛ خو وروسته يې د دغه بيان هرکلی وکړ.

۲- دغه راز د وسله والو ځواکونو دا بيان د هغه خبر تر خپرېدو يوه ورځ وروسته کېږي چې د وسله والو ډلو لاری موټر چې د چټک ملاتړ په ځواکونو پورې اړه لري، له ډار فور څخه خرطوم ته په لاره دی؛ د دې لپاره پوځ د پلازمېنې په ځينو سيمو کې سرتېرې ځای پرځای کړل. ځينو کړيو دغه وضعيت ته د پوځي ځواکونو، چې مشري يې البرهان کوي، او د چټک ملاتړ ځواکونه، چې مشري يې حميدتي کوي، ترمنځ د بالفعلي جګړې رامنځ ته کېدو لپاره د چمتوالي په سترګه کتل؛ ځکه چې د دواړو ځواکونو د مشرانو ترمنځ د نظر اختلافات ډېر شوي دي. د پوځ وياند نبيل عبدالله وويل: «په هيواد کې وضعيت کابو دی او په خواله رسنيو کې چې خرطوم ته د وسله والو ډلو د ننوتو په اړه څه ويل کېږي، سم نه دي» (اليوم التالي ورځپاڼه، ۱۰/۳/۲۰۲۳).

که څه هم د وسله والو ځواکونو د وياند دفتر په يوه اعلاميه کې وويل چې «دوی رسنيو ته داسې اعلاميې نه دي صادرې کړي چې خرطوم ته د وسله والو ډلو ننوتل ردوي. د وسله والو ځواکونو او امنيتي ادارو مشرتابه په هيواد کې په پوره هوښيارتيا او زغم سره امنيتي وضعيت څاري، ترڅو د هيواد او هيوادوالو امنيت ډاډمن شي. (الشرق الاوسط، ۱۱/۳/۲۰۲۳). د پوځ وياند له دفتر څخه د تاييد او رد اعلاميې پر دې دلالت کوي چې غواړي د خلکو ذهنونه مغشوش کړي، يوه موخه يې دا ده چې اپوزيسيون ووېروي او له حميدتي سره د البرهان د پخلاينې ناستې ته فضا برابره کړي، په دې ادعا چې د دوی ترمنځ د نظر اختلاف او لانجې شته!

۳- وروسته اعلان شوه چې د البرهان، حميدتي او تړون لاسليک کوونکو ترمنځ به په سوډان کې د ۲۰۲۳م کال مارچ ۱۱ مه، ماښام غونډه وشي. د سوډان واکمنې شورا يوه اعلاميه خپره کړه چې البرهان او حميدتي «د سياسي پروسې پر پرمختګ او د هوکړه شوو تنظيماتو له مخې د مختنه تګ پر اړتيا بحث وکړ او هوکړه يې وکړه چې د هغه څه له مخې وړاندې لاړ شي چې د سياسي پروسې په تړاو د هوکړه شوو تنظيماتو په توګه تشريح شوي». د سلا مشورو په پای کې په هيواد کې پر سياسي او امنيتي وضعيت رڼا واچول شوه او پرېکړه يې وکړه چې [د هيواد د امنيتي وضعيت د څارلو لپاره به له منظمو ځواکونو، اړوندو ايالتي ادارو او وسله والو مبارزو خوځښتونو څخه يوه ګډه امنيتي کمېټه تشکيلېږي. (سوډان ټريبيون، الجزيره ۱۱/۳/۲۰۲۳)]، دا کار د دې د ښودلو لپاره وشو چې

د البرهان او حمیدتي ترمنځ اختلاف دی او ګواکي د پوځ او چټک ملاتړ ځواکونو ترمنځ خبره نښتې ته نیږدې شوې وه او دا چې اوس تر غونډو وروسته وضعیت موقتاً ارام شو.

۴- حمیدتي تر هغه مخکې اعلان وکړ چې [د ۲۰۲۱ د اکتوبر ۲۵مې کودتا کې د نوموړي ګډون یوه تېروتنه وه او زیاته یې کړه چې د اکتوبر ۲۵مې کودتا له کاره لوېدلي پخواني رژیم ته د ورستنېدو لاره چمتو کړه. (الجزیره، ۱۹/۲/۲۰۲۳)]. دې ته په کتو چې نوموړي د تېر رژیم په را پرځولو کې لویه ونډه درلوده؛ اوس شونې نه ده چې هغه دې خپل نظر بدل کړی او پښېماني دې وښيي، بلکې دا ټول د دې لپاره کوي چې اپوزیسیون تېرباسي او ځان ته يې را نیږدې کړي. له همدې امله نوموړي وویل: [هراړخیز تړون یوازنۍ واحده ټولګه ده چې باید خنډ او ځنډ پرته په بشپړ ډول پلې شي. (عرب پوسټ، ۲۱/۲/۲۰۲۳)]. وروسته حمیدتي خپل تبلیغات زیات کړل او داسې یې وښوده چې ګواکي هغه د پوځ له مشرتابه سره مخالف دی او ویې ویل: [موږ به هغه څوک ونه منو چې غواړي د هېواد د اداره کولو لپاره دیکتاتور شي. موږ په خپله خوښه او اراده هوکړه کړې چې واک بشپړ ملکي حکومت ته وسپارو... په هیواد کې اصلي شخړه د واک خوښوونکو او هغو کسانو ترمنځ ده چې غواړي واک ملکي اداري ته وسپاري. د چټک ملاتړ ځواک او پوځ ترمنځ ستونزه نشته او لانجه له هغو سره ده چې پوځ پلمه کوي. د پوځ، چټک ملاتړ ځواک او واکمنې شورا ترمنځ د ملکي حکومت پر تشکیل هوکړه شوې ده (الشرق الاوسط، ۸/۳/۲۰۲۳)].

نوموړی داسې ښيي چې د ملکي حکومت پلوی او د تړون د بشپړ پلي کولو سخت لیواله دی. له بل پلوه، البرهان د کنایې به بڼه اشاره کوله چې پوځ د تړون په پلي کولو مکلف نه دی، ځکه ټولې سیاسي غاړې د دغه تړون برخه نه دي. وروسته البرهان پوځ په دې شرط د تړون په پلي کولو مکلف کړ چې چټک ملاتړ ځواکونه او وسله وال مبارز خوځښتونه د پوځ برخه شي او ویې ویل: (که په وسله والو ځواکونو کې د چټک ملاتړ ځواکونو او وسله والو خوځښتونه د مدغم کېدو په تړاو ښکاره خبرې وشي، موږ به د تړون پلي کولو ته دوام ورکړو. له دې پرته به نورې خبرې د منلو وړ نه وي (شرق الاوسط، ۸/۳/۲۰۲۳). دا هر څه د دې د ښودلو لپاره کوي چې د تړون د پلي کولو په تړاو د البرهان او حمیدتي ترمنځ مخالفت شته، که څه هم هغوی دواړو د تړون په تصویب کې برخه لرله!

۵- موږ د ۲۰۲۲م کال ډسمبر په ۱۱مه یوه سوال او ځواب کې د هغه تړون یادونه وکړه چې په ۵/۱۲/۲۰۲۲ نېټه لاسلیک شو: (دغه تړون د البرهان او د هغه د مرستیال په مشرۍ پوځي مشرتابه او د هغو شاوخوا کسان له دغه حالته ژغوري، ځکه خلک د دوی واک نه غواړي او داخلي ملاتړ نه لري. له دغه تړون سره پوځیمشرتابه د هغو جرمونو په سبب خوندیتوب ترلاسه کوي چې دوی ترسره کړي، دوی له سزا تښتي. دوی د هیواد د چارو په مدیریت او د ستونزو په حل کې ناکام شول. یوازینی کار چې دوی وکړ د امریکایي نفوذ ساتنه وه... له بل پلوه، تش په نامه د ازادۍ او بدلون ایتلاف او نور هغه ګوندونه چې حکومت یې تشکیل کړی و، هم د هیواد اداره کولو، ستونزو

په گوته کولو او خلکو ته د ژوند لومړنیو اړتیاوو پوره کولو کې پاتې راغلل. هغوی یوازې په هیواد کې د بریتانیې نفوذ په ساتلو بوخت وو...) مور دغه راز ویلي وو: (د پوښتنو په اړه: ایا دغه تړون به دوام وکړي او پلی به شي؟ دا د پوښتنې وړ ده. ایا دغه تړون به هیواد وژغوري؟ دا یو خوب او خیال دی ځکه اساس یې باطل دی... بهرنی لاسوهنه ټولو ته معلومه ده، بهرنیان د تړون د لاسلیک په وخت کې په جمهوریت ماڼۍ کې موجود وو. هغه کس چې د تړون مسوده یې چمتو کړې وه، یو بهرنی و، د امریکا او بریتانیې تر څار لاندې د ملګرو ملتونو استازی و. د سوډان په نړیواله لانجه کې دواړه لوري د څلور اړخیز او درې اړخیز تر نامه لاندې فعالیت کوي) پای.

د دې لپاره چې د تړون د پلي کېدو مخه ونیول شي، پوځي مشرتابه په دواړو لورو ؛ پوځ چې مشري یې البرهان کوي او چټک ملاتړ ځواک چې مشري یې حمیدتي کوي، کې په خپلو منځونو کې د لانجې جوړولو تمثیل کوي، ترڅو خلک د هغوی توافق او مخالفت ته په تمه وي. د لانجې د حل تمرکز هم د د پوځي او ملکي حکومت تر منځ نه، بلکې د هغوی دواړو ترمنځ دی.

٦- تېره فبروري د برېتانیې مهم مرکز، متحده عربي اماراتو ته د البرهان سفر او د هغه تر سفر وروسته له سوډان څخه د متحده عربي اماراتو د بهرنیو چارو وزیر شیخ شخبوط لیدنې او البرهان ته د یوه پټ پیغام لېږدولو، د البرهان په درېځ، بیان او عمل کې د پام وړ بدلون را نه ووړ. بلکې هغه د امریکا غوښتنې گام په گام پلې کوي... د دغو سفرنو انگیزه د یو بل څارل وو، ترڅو یو د بل غبرگون ځان ته معلوم کړي، که څه هم ظاهراً هر لوري د وضعیت ارامولو هڅه کوله. ملکي حکومت که د البرهان او حمیدتي ترمنځ په لانجې تېروځي او فکر وکړي چې دا یوه واقعي لانجه ده، په دې صورت کې پوځي حکومت بریالی کېږي چې ملکي حکومت د وضعیت ارامولو په پلمه د شخړې حل ته راکش کړي. د ازادۍ او بدلون ایتلاف مشر محمد عصمت الشرق الاوسط ته وویل: [د ازادۍ او بدلون ایتلاف او ملکي انتقالي حکومت د چټک ملاتړ ځواکونو او وسله والو ځواکونو ترمنځ دوامداره هڅې کوي چې وضعیت ارام شي او د هغوی ترمنځ د نښتې مخه ونیول شي، ځکه نښته هیواد د ویرانۍ لوري ته بیایي. (الشرق الاوسط ورځپاڼه، ٦/٣/٢٠٢٣ )]. وروسته چهارشنبه ماښام د ٢٠٢٣م کال د مارچ ٨ مه، په سوډان کې د پخواني ایتلافي حکومت او د ازادۍ او بدلون ایتلاف یو جگپوړ پلاوی متحده عربي اماراتو ته په سفر ولاړ ... تر څو په هیواد کې د سیاسي کړکېچ پای ته رسېدو په موخه وروستۍ هوکړې ته د رسېدو ملاتړ وکړي. [په دغه پلاوي کې د عامه پوهاوي او بهرنیو اړیکو د کمېټې مشر، د سوډان کانگریس گوند مشر عمر الدقیر، د فدرالي جرگې د اجراییه بورډ مشر بابیکر فیصل، د ملي امت گوند عمومي منشي الوثیق البریر او د ازادي او بدلون خوځښت د مسلکي اتحادیې استازی طاها عثمان گډون درلود. دغه ایتلاف په یوه بیان کې وویل چې یاد پلاوی به له اماراتي چارواکو سره وگوري او د سیاسي پروسې لپاره به د تړون وروستي برخې بشپړې کړي. (الشرق الاوسط ورځپاڼه، ٩/٣/٢٠٢٣).

له دې ټولو داسې ښکاري چې ملکي حکومت ځنډېږي ته شوی او موضوع اوس یوازې د پوځي ځانګې په لاس کې ده! امریکا په سوډان کې د سیاسي لانجې لپاره یو نوی ځپرکی پرانیستی دی، دا د خپلو مزدورانو ترمنځ د لانجې یو غولوونکی ځپرکی دی، ترڅو پر نورو لانجو اغېز وښندي او اروپا ته وفادار ځواکونه له حمیدتي سره نیږدې کړي، په ځانګړي ډول کله چې نوموړي له ملکي واکمنۍ څخه خپل ملاتړ په ډاګه کړ!

۷- له یهودي ادارې سره د اړیکو عادي کولو په تړاو باید ووایو چې البرهان د راپرځېدو له وېرې او د دې لپاره چې واک یې پاوړی شي؛ له د یهودي ادارې سره د اړیکو عادي کولو په ګډون هر هغه څه مني چې امریکا یې غواړي. له یهودي ادارې سره د اړیکو عادي کول یهودو، امریکا، البرهان او د هغه شاوخو کسانو ته ګټه رسوي؛ خو سوډان ته زیان رسوي. د شریعت له اړخه دا یو ناروا عمل دی؛ ځکه یهودي ادارې د مسلمانانو سپېڅلې خاوره، فلسطین اشغال کړې، شپه او ورځ پر فلسطینیانو بریدونه کوي، د هغوی کورونه ویجاړوي، ماشومان یې وژني او شتمني یې لوټوي.

سربېره پردې، [د سوډان واکمنې شورا علان وکړ چې ولسمشر عبدالفتاح البرهان په خرطوم کې د اسراییلو له بهرنیو چارو وزیر (ایلي کوهن سره ولیدل او په ځانګړي ډول په امنیتي او پوځي برخه کې د ګډې همکارۍ پر لیدلوري یې بحث ور سره وکړ)، د سوډان د بهرنیو چارو وزارت وویل چې دواړو لورو (هوکړه وکړه چې د اړیکو عادي کولو په لور به ګامونه اخلي). (سونا، ۲/۲/۲۰۲۳)]. د اسراییلو رسمي راډیو د ۲۰۲۳م کال د فبروري په ۸مه وویل چې د سوډان واکمنې شورا یوه ځانګړي پلاوي په پټه له یهودي دولت څخه لیدنه وکړه. د دې لپاره چې د امریکا په ملاتړ سوډاني چارواکي په واک کې پاتې شي ،سوډاني رژیم نور له یهودي ادارې سره اړیکو عادي کولو په تړاو له خیانت څخه نه شرمېږي.

**پایله:**

۱- د البرهان او حمیدتي ترمنځ هیڅ ریښتینې لانجه نشته، دواړه د امریکا لاسپوڅي دي. امریکا د حمیدتي په مټ البرهان دغې چوکۍ ته ورساوه. [د عمر البشیر تر ګوښه کېدو وروسته، د دفاع وزیر عبدالرحمن بن عوف واک ته ورسېد او د نوموړي تر راپرځېدو وروسته البرهان د واکمنې شورا او پوځ مشر شو، که څه هم البرهان په وسلهوالو ځواکونو کې د رتبې له اړخه لومړۍ درجه قومندان نه و. داسې باور دی چې د حمیدتي او سیمهییز ملاتړ په مټ البرهان دې چوکۍ ته ورسېد. د واکمنې شورا رامنځ ته شوه، مشر البرهان او مرستیال یې حمیدتي وټاکل شو او هغوی دواړو د ملکي حکومت پر ضد ایتلاف وکړ. (عربي پوسټ، ۲۱/۲/۲۰۲۳). له همدې امله، دا لانجه ریښتینې نه، بلکې مصنوعي بڼه لري او دواړو ته بېلې دندې ورکړل شوې دي.

۲- دا چې دا لانجه ولې ریښتینې نه ده؛ دا د دې لپاره ده چې حمیدتي وکولای شي د امریکا په امر ډارفور د سویلي سوډان پشان خپلواک کړي، ځکه حمیدتي هلته پوځي او مالي ملاتړ لري [د حمیدتي ځواکونه د طلا کانونو په ګډون د سیمې ډېره شتمني په خپله ولکه کې لري او عربي متحده امارت له یادو کانونو څخه د ۱٦ میلیارده ډالرو په ارزښت صادرات کوي. (افریقا ریپورټ، ۱۳/۱/۲۰۲۱؛ مصر ۳٦۰ ویبپاڼه، ۱۲/۵/۲۰۲۲). امریکا اوس خپل پام دې ته کړی چې د سوډان په حکومت کې خپل مزدوران ځواکمن او بریتانوي مزدوران څنډې ته کړي، د البرهان او حمیدتي ترمنځ د لانجې پرځای پخلاینه رامنځ ته کړي! خو امریکا که وکولی شي د اسلامي خاورو له ټوټه کولو یې لاس نه دی اخیستی، ځکه د کفري استعماري هیوادونو اجنډا همدا ده.

۳- البرهان غواړي چې په ترړون کې خپله ونډه زیاته کړي، د لاسلیک کوونکو لورو پر وړاندې خنډونه جوړ کړي او د ترړون پلي کول وځنډوي. هغه غوښتل له ترړون څخه بهر لوري سره غونډې وکړي، لکه څرنګه چې د پوښتنې په پیل کې اشاره ورته وشوه، چې دا کار د ترړون لاسلیک کوونکو او له ترړون څخه بهر لورو ترمنځ لانجه رامنځته کوي، په ځانګړې ډول د ازادۍ او بدلون ایتلاف چې د ترړون له ګډونوالو څخه دی او د ازادۍ او بدلون ایتلاف ډیموکراټ بلاک چې د ترړون له ګډونوالو څخه نه دی او دا چاره وروستی تصویب ځنډوي. د البرهان دریځ د واکمنې شورا یوه غړي، شمس الدین کباشي د تېرې میاشتې په پیل کې بیان کړ: [پوځ به ترړون له سیاسي اجماع پرته پلی نه کړي او د ترړون ګډونوال په دومره کچه نه دي چې په هیواد کې سیاسي بحران ته د پای ټکی کېږدي؛ پوځ به د هغه اساسي قانون ساتنه ونه کړي چې هوکړې نه وي پرې شوې. (الجزیره مباشیر، ۲۰/۲/۲۰۲۳)]. پوځ هڅه کوي چې له ترړونه سرغړونه وکړي یا په یوه نه یوه لار د هغه د پلي کېدو مخه ونیسي؛ کله په ترړون کې د ګډونوالو شمېر زیاتوي او کله له پوځ سره د چټک ملاتړ ځواکونو او وسله والو خوځښتونو د ادغام غوښتنه کوي. د امریکا له غوښتنې سره سم، د ترړون مودې غځول یا لنډول د البرهان او حمیدتي په واک کې دي!

۴- امریکا په سوډان کې سیاسي لانجې ته یوه نوې بڼه ورکړې- د خپلو مزدورنو ترمنځ لانجه؛ چې د اروپا اړوند لاسپوڅي ځنډې ته کړي او د ترړون پلي کول وځنډوي او پرځای یې د خپلو مزدورانو ترمنځ پخلاینه وکړي، داسې چې ګواکي خلک فکر وکړي چې د هغوی ترمنځ لانجه حقیقي ده! واکمنه شورا چې البرهان او حمیدتي یې مشري کوي، د وسله والو ځواکونو د نه ادغام کولو په پلمه ترړون ځنډوي. دا حالت به تر هغه روان وي چې د ترړون لپاره مناسب شرایط، یعنې د ملکي حکومت اغبز په بشپړ ډول پای ته ورسېږي. البرهان په خپل بیان کې د «ژر» لفظ کارولی چې مانا یې همدا ده: [هیواد د ملکي حکومت د جوړېدو لور ته روان دی او ښایي ملکي حکومت «ژر» جوړ شي. (الاتحاد، ۹/۳/۲۰۲۳)]. نو ترړون به د واکمنې پوځي شورا له غوښتنو سره سم پلی کېږي او وروسته به هغه «ژر» وي چې کله یې شرایط برابر شي! که دا کار د هغوی لپاره شونی نه و، بیا به ترړون لغوه کوي، له پوځ سره د چټک ملاتړ ځواک نه ادغام کول به پلمه کوي او وایې به چې البرهان او حمیدتي هوکړې ته نه دي رسېدلې، یعني د اساسي قانون مسودې د لغوه کولو سناریو به په بله بڼه تکرار شي.

دا سند د پوځي او ملکي ځانګو ترمنځ د ۲۰۱۹م کال د اګسټ په ۲۱مه لاسلیک شو او پرېکړه وشوه چې پوځ به په پیل کې د ولسمشریزې شورا ریاست پر غاړه اخلي. وروسته به چارې د ۲۰۲۱م کال په نومبر کې ملکي ادارې ته سپارل کېږي. د دې لپاره چې ملکي ادارې ته له واک سپارلو څخه ډډه وکړي، د سوډان دفاع وزیر تورن جنرال یاسین ابراهیم د ۲۰۲۱م کال د سپټمبر په ۲۱مه، یعنې ملکي ادارې ته د واک له سپارل کېدو دوې میاشتې وړاندې، اعلان وکړ چې یوه کودتا یې شنډه کړې ده. وروسته د حکومت منحلولو ږغونه پورته شول، حکومت منحل او د اساسي قانون د مسودې موده پای ته ورسېده. موږ دا پوښتنه د ۲۰۲۱م کال د اکتوبر پر ۲۵مه څواب کړې وه. ښایي هغه سناریو بیا ځلي تکرار شي، خو د امریکایي مشهورو لاسپوڅو لانجې ته د مصنوعي بڼې په ورکولو سره!

۵- په پای کې یو ځلې بیا ټینګار کوو چې سوډان به تر هغه وخته د رڼا څرک ونه ویني چې څو مزدوران د دغو استعمارګرو لپاره فعالیت پکې کوي او د هغوی لپاره جګړه کوي. دوی د هیواد د بیا جوړولو او پر پښو درولو، د ستونزو حلولو، د خلکو د ګېډه مړولو او د دوی د اړتیاوو پوره کولو پروا نه لري. له دې پرته بله لار نشته چې خلک لاسپوڅي چارواکې له واکه را وغورځوي او د هغوی پر ناسمه لار ولاړ نه شي؛ بلکې د هغو خلکو پر لار ولاړ شي چې له الله سبحانه وتعالی څخه ښښنه غواړي، په هره چاره کې پر هغه سبحانه و تعالی توکل کوي، د هغه سبحانه و تعالی احکام پلي کوي، مسلمانان سره یو موټی کوي او اسلامي ژوند بیرته راګرځوي.

**[وَمَنْ أَحسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَّقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ] (فصلت: ۳۳)**

**ژباړه:** «او د خبرې په لحاظ له هغه چا څخه څوك ډېر ښه دی چې الله سبحانه وتعالی لوري ته بلنه کوي او نېك عمل کوي او وایي چې بېشکه زه له مسلمانانو څخه یم.»

**۱۴۴۴هـ.ق د شعبان ۲۷مه**

**۲۰۲۳م کال د مارچ ۱۹مه**